مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۸/۲۸

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
## پينځم توک
دوه سوه او دوه شپيتمه پرله پسي برخه

# کندهار

ايديت:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**شيراني**: دا د ښوراوک د بړيځانو د څلورو اساسي څانګو په منځ کې يوه څانګه ده، دوی اصلاً د يوې بلې ليرې قبيلې له پښتنه دي؛ دا قبيله لا تر اوسه تختِ سليمان ته نيږدې د ديرهٔ اسمعيل خان پر کربښې ژوند کوي. شيراني بړيځو د ښوراوک شمالي برخه نيولې ده چې د لوړه د سيند په کيڼې غاړې کې راځي. دلته دوی درې کلي لري: «پټله خان»، «زبردست» او «ميني خان». شيراني درې اساسي څانګې لري:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| Idozai, or Dozai | عيدوزي يا دوزي | Baranzai | باران زي | Jhiai | جهي |

لومړۍ ياده سوې څانګه په پټله خان کې استوګنه ده، پټله خان د دې ټولي څانګې مشر وو يا دی. د دوی د جنګياليو شمير تقريباً ۳۰۰ تنه دی. دوی د نورو ټولو بړيځانو په شان آرام او د نيک چلند خلک دي. له بړيځو سره د دوی د ادغام په هکله روايات وګورئ په " ښوراوک" کې. «ميتلند»

**شيري کوتل: ـ ۳۲، ـ ۶۷**: دا هغه کوتل دی چې د کويټې – غزني سړک ورځخه تيريږي. په ۱۸۳۹ز کال کې د بمبئـي د ځواک توپونه د همدې کوتل له لارې راتير سول. دا کوتل د غندان په ولسوالی کې لواړګي ته نيږدې دی. «آی. بي. سي.»

* **شيرينک**: ۵۴ – ۳۱، ۲۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د دوخانه د شمال په تقريباً ۴ مايلی کې د کوهٔ شاه مقصود په لمن کې يو کلی دی.

**شيرين کلی**: ۱۴ – ۳۲، ۱۰ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د حاجي کاکا د کلا د شمال په تقريباً ۱ مايلی کې د ارغنداب د سيند د يوې څانګې پر غاړې يو کلی دی.

**شنه غر**: وګورئ: سرګاري

**شوئين**: وګورئ :شويين

* **شوخک**: ۳۶ – ۳۲، ۴۰ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د تيرين کوټ د لويديځ په تقريباً ۱۰ مايلی کې د تيرين د سيند پر غاړه يو کلی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

* **شکور کلی**: ۴۲- ۳۱، ۴۹ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې «هجران»[1] ته د تللي لارې په اوږدو کې د کندهار په شمال ختیځ کې یو کلی دی.
* **شور آب**: ۶ – ۳۳، ۲۷ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «جاهویز»[2] د شمال ختیځ په تقریباً ۳ مایلی کې د کمیسان د سیند پر غاړه یو کلی دی. په دې نوم بل کلی په ۵۵ – ۳۳، ۳۴ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.
**شورانداm حسن زي**: ۳۵ – ۳۱، ۵۰- ۶۵ «ن»: دا له کندهار څخه ۱۱ مایله لیرې د قلات غلزایي د سړک په اوږدو کې مهمند ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»
دې کلي کې «اون زي»[3]، پوپلزي او غلزي استوګن دي؛ د دوی معتبران ملا شاه محمد او جان محمد نومیږي چې دواړه په قوم پوپلزي دي. له دې ځایه پینځوس خرواره غنم او ۵۰ خرواره بهوسه ترلاسه کیدای سي خو واښـهٔ نـهٔ لري. له دې ځایه بار وړونکي اوښان هم ترلاسه کیدای سي. «بومي معلومات، ۱۹۰۴ – ۱۹۰۵»
**ښوراوک**: ۱۱ – ۳۰، ۱۱ – ۶۶ «ن»: *ښوراوک/ ښوراوک د کندهار په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې ولسوالی نوم دی. دا ولسوالي ۴۹۶۴ کیلومتر مربع مساحت او تقریباً ۱۱۲۳۰ تنه وګړي لري. دا ولسوالي په لویدیځ کې د ریګ، په شمال کې د شګې او سپین بولدک ولسوالیو سره پوله او په ختیځ او سویل کې له پاکستان سره ګربنه لري. د ښوراوک ولسوالي ۲۲ کلي لري چې ۸ کلي ئـي له ۵۰۰ تنو ډیر وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په دې ډول لیست کړي دي:*

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| *قنات کاریز* | | *بادلزي* | | *بهادر زي* | | *پنج پای* | |
| *ابو زي* | | *قاسم زي* | | *الکوزي* | | *مندو زي* | |
| *عراقي* | *Iraqi* | *سید بوس* | *Sayyidbos* | *سارک* | *Sarak* | *تره کي* | *Tarahki* |
| *کوندل کلی* | *Kundel Kalai* | *صاحبان* | | *شیراني* | | *سرلت* | |
| *شاهي خان* | | *امان زي* | | *علي زي* | | *تور زي* | *Turzai* |
| *جاني زي* | *Janizai* | *تروسن چاه شور* | | *Trusan Chah -i -Shor* | | | |

*دا سیمه په ۱۹۱۴ ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:*
د ښوراوک ولسوالي د پشین په سویل لویدیځ کې د خواجه عمران او د سرلت د غرنیو لړیو د سویلي انتها په ډډو کې واقع ده. د ښوراوک لغت له دوه وو کلمو څخه مرکب سوی دی یعنی «شور + آبک» یعني د «ترو اوبو» ځای. ښاغلی دوک وایي چې د دې نوم اشتقاقي بنِه له «شوره/ شور» د «تریو یا تروو» یا «مالګینو» او « آب» د اوبو په معنی او د «ک» ئـي د اسم تصغیر لپاره دی.
د ښوراوک لوړوالی تقریباً ۳۰۰۰ فیټه دی او مخ پر شمال لویدیځ او سویل ختیځ متدرجاً کوږ یا شیوه سوی دی.
**طبیعي خانګړتیاوې**: د لوړه سیند د ښوراوک په شمال ختیځ ګوټ کې له ډبرین حلقي تنګي څخه راوځي او د یوې دښتي له منځه په بشپړ ډول تر سویل لویدیځ ګوټ پورې پر مخ ځغلي. دا سیند یو ډیر ستر او ژور بستر لري خو د دې سیند دائمي اوبـهٔ مخکې له دې چې پر دښتي ننوځي د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره راګرځول کیږي او بستر ئـي معمولاً وچ وي.
د دې سیمي عمومي منظر شاړ او وچ دی. د ارغسان په هرځای کې او هرې برخي کې ان په ډیرو ناهموارو برخو کې، په هر کلي او هرې باندې کې او هر کوچني کلي کې د توتو او د زرد آلو د ونو ډلي سته. خو په ښوراوک کې داسي نـهٔ سته. یوازې ځینو ځایونو کې د شین غزي د ونو څو سترې وني سته، له دې پرته نور په ټول ښوراوک کې قطعاً ونـه نـهٔ سته.
دا سیمه له یو شان والي یا یکنواختی څخه په دې خلاصه سوې چې د دې سیمي همواروالی او شاړتوب په ختیځ کې د دنګو غرونو په لړۍ او په لویدیځ کې د سرو شګو د غونډیو په کربنو محصور سوی دی. غرونه هم د دښتي په شان تقریباً له ونو څخه محروم دي؛ دا غرونه تقریباً د غرونو له څوکو سره برابر په یوه لیکه ستوغ دي ؛ دا لیکه یوازې په یوې کوچنۍ غرنۍ څوکي کندو سوې چې «سَرو»[4] نومیږي. څو کوتلونه «وګورئ: سرلت» په دې لړۍ کې سته چې له منځه ئـي شارود ته لاره تللي ده او د ښوراوک په پرتلي ډیر لوړوالی لري.
لاندني معلومات د ښاغلي «او. دوک» له راپور څخه په لنډیز اخیستل سوي دي: " د ښوراوک اقلیم د ژمي په میاشتو کې ډیر ښـهٔ او خوندور دی. واوره په ندرت سره وریږي او هیڅکله د ځمکي پر مخ نـهٔ پاتي کیږي، ویل سوي چې ښوراوک په دوبي کې ډیر تود وي."

---

[1] -Hejran
[2] - Jahwiz
[3] - Unzais
[4] - Saru


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

تولیدات: " دلته غنم په پریمانه اندازه او لږو ډیر وربشې کرل کیږي؛ هر ډول خټکي دلته کرل کیږي او که په پسرلي کې ډیر باران ووریږي جوار هم کرل کیږي؛ تنباکو، مالوچ، ترکاري، ګلان، مجیټ [5]، رشقه دلته نه کرل کیږي؛ دلته څوک د میوې ونه نـهٔ پیژني. د پسرلي حاصل د مې د میاشتې په پای کې راټولیږي او که جوار کرل سوي وي نو د مني په حاصل کې رسیږي خو د جوارو کرل د باران د وربښت په اندازې پورې تړلي دي." «قاعدتاً دلته د مني حاصلات نـهٔ سته».

" دلته خلک د پسونو، وزو، اوښانو او خرونو لویې لویې رمې او پادې ساتي؛ (د ۱۸۷۰ – ۱۸۸۰ او ۱۸۸۱ کلونو وچ کالی د دې لامل سوې چې برېخان د خپلو رمو ډیره ستره شمیره له لاسه ورکړي.) دلته مرغان سته خو ګاو میښې نـهٔ سته.

آسونه دلته په ندرت لیدل کیږي؛ دې ولسوالۍ پخوا د دراني پوځې ځواک لپاره د ۴۰۰ او ۵۰۰ تر منځ آسونه برابرول؛ خو دا لړۍ د سدو زیو د سلطنتي کورنۍ له سقوط وروسته نوره په ټپه ودریدله. ښاغلی دوک وایي چې د لوټ او تالان په بریدونو کې هم له آسونو څخه کار اخیستل کیدهٔ خو اوس خلکو له لوټ او تالان څخه لاس اخیستی دی. ښاغلی دوک د ښوراوک د کرهڼې په هکله د خبرو په لړ کې وایي " دلته بزګري خپله ډیره ساده طبیعي بڼه لري؛ دلته د سرې یا کوډ ورکولو دود نـهٔ سته چې په پایله کې کرنیزه خاوره خپل ټول قوت له لاسه ورکوي. کرنیزې ځمکې په دریو برخو ویشل سوي دي: دوه برخې ئـې هغه ځمکې دي چې یو کال کرل کیږي او بل کال شاړه وي او دریمه ډله ئـې بیا کرل کیږي. د شوراَک غنم په عام ډول په خپل ډنډر یا ساقې کې لنډ دي؛ خو غنم په خپل حاصل کې د لوړ کیفیت غنم دي. په ښوراوک کې په سختۍ سره سخوندر موندل کیږي، د ښوراوک خلک د خپلو ځمکو د قلبې لپاره له اوښانو کار اخلي.

**د اوبو انتظامات**: د ښوراوک د اوبو انتظامات معمولاً د اوبو لګولو د نهرونو په وسیلې کیږي." د لوړه د سیند اوبـهٔ د ژمي او پسرلي په موسمونو کې په «دادر» [6] کې د «بولان د سیند» [7] په شان زښتې ډیرې وي. له هغـهٔ ټکي وروسته چې دا سیند راڅرګندیږي، د سرلت او د عمران د غرنیو لړیو تر منځ سیمو کې د سیند اوبـهٔ نهرونو ته راګرځول سوي دي؛ د نهرونو په اوږدو کې ئـې د اوبو ژرندې ورته جوړې کړي دي؛ د دغو نهرونو په اوږدو کې تقریباً ۱۹ ژرندې دي او اکثریت ئـې په یوې شپې او ورځې کې ۴۰ مونډه اوړهٔ جوړوي. د دغو اوبو د بهیرونو فرعي څانګې یا لښتي د ښوراوک پورتنۍ برخه تر پوښښ لاندې نیسي او هر چیرې ورڅخه ویالې جلا سوي دي؛ دا هغـهٔ موانع دي چې د سپارهٔ ځواک د تګ مخه نیسي؛ دا اوبـهٔ معمولاً له ۲ تر ۳ فیټو پورې ژورې دي خو ځینې ئـې ان له ۸ تر ۹ فیټو پورې وي. دا د اوبو لګولو په دلیل او د موانعو له کبله دي چې دغه نهرونه او د لوړه د سیند بستر ئـې رامنځته کوي؛ د قافلو لارې د دښتې په ختیځو او لویدیځو ژیو کې په مارپیچ ډول لاره بدلوي او پرمخ ځي. د جون د میاشتې په شاو خوا کې د لوړه د سیند اوبـهٔ لږ کیږي، دغه مهال اوبـهٔ د اوبو زیرمو ته ځي او هلته زیرمه کیږي. بادلزیو ته نیږدې د ۳۰۰ یارډو په ارتوالي او د مایل د ثلث په اوږدوالي د اوبو یوه زښته ډیره لویه طبیعي زیرمه سته. په ژمي کې دا زیرمه په مرغانو ډکه وي. د اوبو په دغو زیرمو کې زیرمه سوې اوبـهٔ د خپل تریووالي له کبله ژر تبخیر کیږي؛ په حقیقت کې د لوړه د سیند اوبـهٔ د خپلې بهیدا په ټول بهیر کې د ښوره ئـې یا «نایتروس» [8] خاورې د خاصیت له کبله چې د سیند له اوبو سره ګډیږي او هم د اوبو چینې ئـې ټولې مالګین خوند لري نو له دې کبله د سیند د بهیدا دغه ټول مسیر ته د تروو اوبو له کبله «ښوراوک» وایي." دغه نهرونه د دښتې تر نیمایي پورې نـهٔ رسیږي. له دې کبله کرنیزې ځمکې تر شمالي انتها پورې رالنډیږي، د سویل تقریباً ټوله نیمایي برخه د رُس له خاورې جوړه دښته ده چې خاوره ئـې لمر پخه کړې ده. دا د هغـهٔ ځای برخه ده چې «ډاک/ ډاګ» [9] ئـې بولي.

برېخان ۳۵ نهرونه شمیري او ډاک په سیمه ییز لهجه کې د نالې په معنی ده. پر نهرونو سربیره په ټولو کلیو کې څاهان هم سته. ویل سوي چې ټول ټال ۲۹ څاهان سته یعنې ۶ ئـې د مندوزیو په علاقې کې، ۱۶ ئـې په بادلزیو کې او ۳ ئـې په شیراني کې. دا څاهان یوازې په دوبي کې هغه مهال کارول کیږي چې د کانال د اوبو سطحه ډیره ټیټه سي او اوبـهٔ دومره مالګینې سي چې نورې د څښلو وړ نـهٔ وي. څاهان له ۱۲۰ تر ۱۵۰ فیټو پورې ژور دي او د ۳ یا ۴ فیټو په ارتوالي ګردۍ یا مربع قطر لري. د څاهانو د دننه ډبو د ټینګولو لپاره هیڅ ډول هڅه نـهٔ ده سوې، خو بیا هم خاوره په خپله په طبیعي ډول ټینګه ولاړه ده او معمول نـهٔ ده چې څاه دې له دننه ونړیږي. له څاهانو څخه اوبـهٔ د اوښانو په وسیلې راایستل کیږي کټ مټ لکه چې په هند کې دود دي. د دغو څاهانو اوبـهٔ ښې دي؛ خو قاعدتاً هغه څاهان چې د دښتې پورتني پای ته نیږدې دي تر نورو ښې اوبـهٔ لري. همدا یوه ښه قاعده ده او د نهر د اوبو په پرتلې ښـهٔ په نښه سوي دي. د ۱۸۸۰ – ۸۱ ز کال په ژمي کې یو ځواک چې د وسلوال ځواک هره ډله ورسره وه په لومړیو کې مندوزیو ته نیږدې دمه سوه خو د اوبو د بدوالي له کبله دا ځواک اړ سو چې جت پوټي ته لاړ سي ځکه هلته اوبـهٔ نسبتاً ښې دي.

---

5 - madder

6 - Dadar

7 - Bolan river

8 - nitrous

9 - Dak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ښوراوک کې له پیرمحمد پرته چې له ډېرو پخوا وختونو وچ او نړیدلی کاریز دی، نور هیڅ کاریز نـهٔ سته. د لوړه د سیند تر څنگه په ښوراوک کې یو بل د یادولو وړ ستر خوړ هم سته. دا د لوړه د ناوې یا ډورۍ په نوم یادیږي. دا خوړ د ښوراوک له شمالي برخې څخه د دښتې په بلافاصله لویدیځ کې د شگو د غونډیو له منځه تیریږي. دا خوړ له څو ځله تاو راتاو کیدلو وروسته «سیدبت» ته نیږدې د شگو د غونډیو له منځه راوځي. دا خوړ وچ دی یوازې د سیلابونو پر مهال اوبـهٔ په کې بهیږي خو بیا هم د دې خوړ په اوږدو کې د اوبو لگولو لپاره دوه نهرونه ورڅخه جلا سوي دي؛ په ډېریو ځایونو کې د کرکیلې ترانگې سته، همدا شان دلته د شین غزي سون بوټي هم پریمانه دي. ډېر امکان لري چې ډورۍ دې د لوړه د سیند ډېر زوړ بستر وي.

**استوگن وگړي او نفوس**: د ښوراوک وگړي بړیڅان، افغانان «پښتانـهٔ- ژ؟» دي چې شرحـهٔ ئـې تر اړوندو نومونو لاندې راغلې ده. دوی له ښکلي پلونډ «پیل پیکر» نژاد څخه دي چې په زړورتیا کې شهرت لري خو ډېر سوله خوښي او په ټوله کې ډېر آرام خلک دي. دوی بزگران دي خو ډېري ئـې په ژمي کې هند ته د کارموندلو لپاره ځي. سره له دې چې ښوراوک د اوښانو د پالنې او روزنې د ځای په نوم شهرت لري او بړیڅان ډېر اوښان لري خو بیاهم دوی هندوستان ته د سوداگریزو مالونو په وړلو راوړلو کې نـهٔ دخیل کیږي. کله ناکله دوی تر کج – مکران پورې انتقالات کوي او تر ډېره گرمسیل او سیستان ته مالونه وړي او کله هم خو په ډېر ندرت د کندهار او قلات تر منځه هم ځي.

ښاغلي دوک د دې ولسوالي وگړي تر ۲۱۰۰۰ تنو پورې شمیرلي دي او دا ئـې د خپل جدول تر شا ښودلي دي؛ موږ هغـه د ۱۸۷۹ز کال د مارچ د میاشتې د راپور له مخې تلخیص کړي دي.  براهویان تقریباً له یوې مخې په دښتې کې محصور دي.

د ښوراوک ولسوالي په څلور علاقه داریو ویشل سوې او هرې علاقه دارۍ کې د بړیڅانو له څلورو څانگو څخه یوه یوه څانگه استوگنه ده. په شمالي منتهی الیه علاقه دارۍ کې بادلزي استوگن دي چې معمولاً د پوټي په نوم یادیږي؛ پوټي " د شگو د غونډۍ" په معنی ده. دې علاقه دارۍ کې د بادلزیو، «آمون زیو» [10]، احمد «یا حمید» خان، او «پین» یا «آنند» [11] کلي دي. نورې علاقه دارۍ د هغو څانگو په نوم یادیږي چې وگړي ئـې په کې استوگن دي. د زکوزیو برخه پوټي ته نیږدې په سویل او لویدیځ کې استوگنه ده. دا علاقه دارۍ د اوبو زیو، تورزیو، بهادرزیو او علیزیو له کلیو څخه جوړه ده او ځمکې ئـې په دوی اړه لري. د سید یوسف کوچنی کلی هم په همدې ویش کې دی. د لوړه په ختیځ کې  د شیراني علاقه ده چې د سیند په وسیلې له زکوزیو څخه جلا سوې ده. شیراني درې کلي لري: پټله خان، زبردست او میرخان چې د پیر محمد کاریز هم باید ورزیات سي. د مندوزیو علاقه د زکوزیو او شیرانیو په سویل کې د لوړه د سیند په دواړو غاړو کې ده. د سیند په لویدیځ کې مندوزي دي چې په ټول ښوراوک کې د استوگنې تر ټولو لویه سیمه ده او په ختیځ کې د «سامي زیو» او«صابر زیو» [12] کلي دي چې ورسره د صاحب زاده یا د پیر احمد شاه غریب او فقیر کلی هم وشمیرو.

پر سیره پر دغو کلیو د «د لوړه ځنگل» [13] کلی هم سته چې نور کوچني کلي ورسره دي لکه: د زیارت، مهم خان، قیصر خان او ښایي څور نور هم ورسره وي. له مندوزیو کوز یوه لویه تشه دښته یا ډاگ دی او د همدې دښتې په پای کې سیدبت واقع دی چې د بړیڅانو تر ټولو سویلي استوگن ځای دی.

دې ولسوالۍ کې یو څو کورونه هم سته. خلک په جونگړو او څپریو کې اوسیږي چې د شین غزي له نریو ستنو او د شین غزي د لرگیو په کټارو کې ټینگ سوي دي او بیا ئـې خټه وربانديې اچولې ده. «وگورئ: بړیڅ» دا جونگړې د «کودي» [14] په نوم یادیږي. کلي د دغو جونگړو له ټولگو څخه جوړ دي چې په منځ کې ئـې څو دائـم استوگن کورونه د «خون» [15] په نوم هم سته چې د پشین کورونو ته ورته دي؛ په دغو کورونو کې ملکان او قومي مشران اوسیږي.

لاندنې د ښوراوک په ولسوالۍ کې د استوگنو سیمو د وگړو شمیر ښیي:

| شمیره | قومي څانگه | د نارینه وو شمیر | د کوچنیو سوداگرو هټۍ |
|---|---|---|---|
| I | مندوزي | ۱۷۰۰ | ۶ |
| II | زکوزي | ۲۰۰۰ | ۶ |
| III | بادلزي | ۱۰۵۰ | ۲ |
| IV | شیراني | ۱۰۰۰ | ۲ |

10 - Amunzai
11 - Pain or Anand
12 - Samezai and Sabarzai
13 - Lora Zangal
14 - kudis
15 - khun


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۵۷۵۰ | ټولټال | |

براهوي «ساره وان» [16] کوچیان

| د وګړو شمیر | قومي ځانګه | | شمیره |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰ | Sumalani | سومه لاني | I |
| ۴۰۰ | Sasuli | ساسولي | II |
| ۵۰۰ | Pirkani | پیرکاني | III |
| ۱۱۰۰ | ټولټال | | |

براهوي «جهاله وان» [17] کوچیان

| د وګړو شمیر | قومي ځانګه | | شمیره |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰ | محمد حسني | | I |
| ۱۰۰ | Channal | چنال | II |
| ۵۰ | قلندراني | | III |
| ۳۵۰ | ټولټال | | |

| شمیر | لنډون/ اختصار | |
|---|---|---|
| ۶۰۰۰ | د نارینه وګړو ټول شمیر | بړیخان |
| ۱۱۰۰ | د نارینه وګړو ټول شمیر | ساره وان براهوي |
| ۳۵۰ | د نارینه وګړو ټول شمیر | جهاله وان براهوي |
| ۱۶ | د نارینه وګړو ټول شمیر | هندو سوداګر یا «بنیه » [*] |
| ۲۱۰۰۰ | د ښځینه او نارینه وګړو د ټولټال شمیر اټکل | |
| | * Hindu banniahs | |

د کلیو د وګړو د شمیر په اټکل کې باید په یاد لرو چې د انساني استوګنځي او د څارویو د ځایونو تر منځ کوم ظاهري توپیر نـهٔ سته او دواړه سره ګډ سوي دي.

کلي تر ډېره مخ خلاصي دي خو پخوا وختونو کې د قوم هرې اساسي ځانګې ځانته یو سرای، یوه کلا او یا په دیوالونو کې راتاو ډېره لویه محوطه درلوده او د لوټمارو او غلو په راپیدا کیدلو سره به همدلته دا خلک له خپلو رمو او پادو سره د پناه لپاره راتلل. د مندوزیو کلا یوازینۍ ولاړه کلا ده چې اوس د ړنګیدلو په حالت کې ده.

اکثریت بړیخان په پسرلي کې د مارچ او اپریل په شاو خوا کې د دوه وو میاشتو لپاره دښتو ته یا لږ تر لږه د دښتي ژۍ ته کډه کیږي. دوی د دې لپاره کډه کیږي چې د ژمي له بارانونو وروسته خپلې رمې په تازه را شنو سویو وښو او بوټو کې وپیایي. وریسي بیرته راځي چې خپل حاصلات لو کړي، د دوی حاصلات د مې په میاشت کې پخیږي. دوی د پشین د خلکو په پرتلې ۲ یا ۳ اونۍ مخکې خپل درمندونه ټولوي. د درمندونو د حاصلاتو له ټولولو وروسته یو شمیر بړیخان

16 - Sarawan Brahuis
17 - Jhalawan Brahuis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

بیرته له سرلت ورهاخوا لوړ سیمو ته ستنیږي؛ او معمولاً دا کار شیراني ډیر کوي. ظاهراً د دوی رمې ټول دوبی په دښتې کې وي خو د ډیرې تودوخې پر مهال خلک دښته غوره بولي ځکه دښته سړه وي.
**ریګستان:** ریګستان یا دښته چې په تحت اللفظي معنی د «شګلنې سیمې» په معنی ده په ښوراوک کې د خلکو په ژوندانـهٔ کې مهمه ونډه لوبوي او اړینه بولم چې په دې باندې دلته ځانګړې پاملرنه وکړو. د دې دښتې ځانګړتیاوې د "ریګستان" د مقالې تر سرلیک لاندې راغلي دي. دا یوه پراخه او د شګو متموجه یا څپانده دښته ده چې د شګو د لوړو غونډیو په خط الرسونو کې راپورته او په دَرو او ژورو ځایونو کې ډوبیږي. دغه ځانګړتیا چې دا دښته د رس له خاورې له جوړې دښتې څخه دنګه ده او ورسره مماس کې ده هماغسې چې مخکې مو وویل د ۵۰ او ۱۰۰ فیټو په لوړوالي د شګو د غونډیو یوه اوږده لیکه لري. د شګو خط الرأسونه په خپل لوړوالي کې لا وړاندې لا لوړیږي او تورن هنل دا خبره د ملا میرداد د ځاه په سیمې کې «له جت پوټي ۱۷ مایله لیرې» او له همدې ځایه د لارې په اوږدو کې لیدلې ده او وایي چې د شګو غونډۍ ۳۰۰ فیټه او ان ۵۰۰ فټه لوړې دي. د دښتې د رس خاوره د شګو په اوږدو، تنګو او مارپیچو درو کې غځیږي؛ په عام ډول د رس له خاورو دا تړانګې کرل سوي دي او په همدې تړانګو کې د بړیڅانو کوچني کلي سته. د ریګ په هکله باید ووایو چې دا تړانګې هم په عامه محاوره کې د ریګ په نوم له ښوراوک څخه د یوۀ جلا شي په توګه یادیږي. د دې د پام وړ دښتې مواد سره شګه ده چې د دښتې په شان ورسره ډیره نرمه خاوره ګډه سوې ده ؛ دا له دې څرګنده ده چې دا خاوره تر شګو لاندې مخ پر غځیدلو ده او په تدریج سره خپریږي. دا ثابته خبره ده چې د ریګ سیمه لا تر اوسه هم دا هیله چا ته په زړه ورکوي چې دا ځمکه د کرهنې وړ ده خو تر هغـهٔ ځایه چې په ښوراوک اړه لري پرمختګ ئـې ډیر سوکه ده.
دغه خوځښت د موجود باد پر لور دی، د باد د چلیدلو لوری له سویل لویدیځ څخه مخ پر شمال ختیځ دی او د ښوراوک پر لور د شګو ژۍ تقریباً مخ پر شمال – شمال ختیځ او سویل – سویل لویدیځ لوري پرتې دي او په وروسته یاد سوي لورې، پرمختګ ظاهراً د شدیدې حاده زاویې په لور کې کیږي او حقیقي پرمختګ له ډاګ څخه د دښتې پرلور د باد چلښت په پرتلې ډیر لږ دی. د پرمختګ دغه اندازه په پورته یادو سویو درو کې په څرګنده لیدل کیدای سي او هم په هغو کښته ننوتلو ځایونو کې لیدل کیږي چې د دښتې د ژۍ ځینې برخې په ښیو زوایاو کې د باد د چلیدلو په لوري کې راوړې دي. د ښوراوک سفالي خاورې له خبرې سره مطابقت مومي که ووایو چې د شګو پرمختګ په داسې حالاتو کې په کال کې یو یارډ دی. د دښتې د عامي کرښې په اوږدو کې نوموړې سرچینه دا هم وایي چې دا پرمختګ یوازې نیم ګز دی او په جت پوټي کې یو سړی چې ځان د پنځوسو کالو ښیي په ډاډ سره وایي چې د هغـهٔ په یاد سره شګو ۲۴ ګزه پرمختګ کړی دی. د شګو د پرمختګ د همدې اندازې په پام کې لرلو سره دا دښته به د یوې پیړۍ په اوږدو کې تر تقریباً ۵۰ یارډو پورې تر شګو لاندې سي. د دې ترڅنګ له شمال او ختیځ لوریو او همدا شان له سویل او لویدیځ لوریو څخه د باد نفوذ هم په پام کې ونیول سي. له شماله مخ پر ختیځ د باد چلښت عام دی خو د شګو پر پرمختګ باندې خپلې اغیزې لري. په سید بت کې د شګو یوه منفرده غونډۍ ده چې تر ډیره د باد په معرض کې واقع ده. ویل کیږي چې د شګو دا غونډۍ کله چې د شمالي باد تر برید لاندې راغلې وه څو ځله په محسوس ډول سویل لور ته تللې ده. د دغو ټولو خبرو په پام کې نیولو سره داسې ښکاري چې شګې به په تقریباً ۴۰۰۰ کالو کې د یوۀ مایل په اندازې پرمختګ وکړي؛ او مخکې له دې چې دا مصیبت بشپړ سي ښوراوک به د ۳۵۰۰۰ کالو په اوږدو کې په شګو کې ډوب سي. له دې کبله دغسې یوه ناوړه پایله چې دومره ډیر اوږد وخت کې پیښیږي باید اوس له پامه وغورځول سي. څرګنده ده چې د سیمې استوګن وګړي راتلونکي خطر ته چندان اهمیت نـهٔ ورکوي. د ۱۸۸۱ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د سید یحیی په کوچني کلي کې خلکو وویل چې د تیرو نهو کالو په اوږدو کې چې دوی دلته میشت سوي دي شګې له خپله ځایه نـهٔ دي خوځیدلي؛ او په زړه پورې لا دا ده چې دا کلی د شګو د غونډۍ پر نیږدې ژۍ ولاړ دی او ورلاندې لمن ئـې قسماً د ابو لګولو په کانال کې ډوبه سوې وه.
په ریګ کې د لوړه ځنګل او نورو درو په هکله دا ممکن ښکاري چې شګې چې شمال ختیځ لور ته پرمختګ کوي خپلې شا ته ځمکه پاکه پریږدي؛ په دې توګه ویلای سو چې د ژورې د شمال ختیځ پر لور د شګو د حجم پرمختګ هماغومره پاک کیږي چې په نورو ځایونو کې لیدل سوي دي. بړیڅان له دې انکار کوي؛ له دې چې دوی دا درې په هماغـهٔ یوۀ پراخوالي ویني دوی دا واقعیت نـهٔ احساسوي. شک نـهٔ سته چې دا بدلون به ډیر تدریجي وي. د لوړه ناله د شګو مخه نـهٔ نیسي او نـهٔ ئـې دروي. په یو شمیر ځایونو کې خلک باید شګې په متناوب ډول د لوړه د نالې له بستر څخه پاکې کړي.
د شګو د ژیو جوړښت د باد پناه په خوا کې د ۴۵ درجو ستوغې ډډې دي او د باد د لور پر خوا نرمه ډډه لري. دا شګې له بوټو سره یو ځای کلکې شیندل سوي دي او په ډیریو ځایونو کې ئـې بوټي او واښـهٔ په پریمانه اندازه شنـهٔ سوي دي. په بوټو کې «سمالګي» [18] چې د شین غزي یو ډول دی ډیر عام دي. د وښو په هکله به وروسته خبرې وکړو. په دښتې کې فوق العاده عالي څرځایونه سته چې هم د اوښانو لپاره او هم د پسونو لپاره دي. په نرمو شګو کې تګ آسونو او کچرو ته ګران کار دی. دا شګې ښایي د اوښانو د تګ لپاره وي خو کښته کیدل او پورته کیدل په کې ډیر ګران دي. توپچي ځواک

[18] - smalgai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

به د ټول ریګ له منځه په تیریدلو کې له ډیرو سختیو سره مخامخ سي. د کچرو له اوړو باید بارونه کوز کړل سي او کله چې له دښتې ووتل بیا دې په کار واچول سي. دې سیمې کې ډیر لږ خلک استوګن دي او انساني ژوند یوازې څاهانو ته نیړدې موجود دی. دا څاهان هندوستان ته د لارې په اوږدو کې کیندل سوي دي. دا لارې معمولاً په دښتې کې لنډې لارې دي، په همدغو لارو هغه قافلې چې له هرات یا سیستان څخه راځي او د دې لپاره چې له کندهار څخه اجتناب وکړي خپله لاره تقریباً ۱۰۰ مایله لنډوي.
ویل سوي چې په دغو څاهانو کې اوبـهٔ پریمانه او نسبتاً ښې دي. ویل سوي چې دا څاهان له ۱۵۰ تر ۲۰۰ فیټو پورې ژور دي ؛ له څاهانو څخه اوبـهٔ په هماغسې ډول راپورته کیږي چې په هندوستان کې دود دي، یوازینی توپیر دا دی چې دلته خلک د اوبو په رااېستلو کې له اوښانو کار څخه اخلي او په هند کې له سخوندرو. باران کله نا کله په دښتې کې وریږي او په کم عمقو ځایونو کې ئـې دلته او هلته ورته اوب – ډنډونه کیندلي دي، خو دا ډنډونه ډیر ژر وچیږي نو د اعتماد یوازینې ډاډمنه سرچینه د څاهانو اوبـهٔ دي. د ریګستان د هلمند په اړخ کې د ۵۰ مایلو په پلنوالي د بې اوبو سیمې یو کمربند دي. ویل سوي چې قافلې د دې کمربند له یوې غاړې څخه تر بلې غاړې پورې د دوه ورځو په مزل کې رسیږي او له ځانونو سره هرومرو اوبـهٔ لیږدوي. ویل سوي چې د دمې نیولو په ټولو ځایونو کې سون لرګي او بوټي پریمانه دي خو دا امکان هم سته چې ډیري لرګي د سیمې د استوګنو وګړو له پلوه مصرفی سي او هم د هغوی رمې د دښتې واښـهٔ خوري.
د دښتې استوګن وګړي کوچیان دي؛ د ښوراوک په ګاونډ کې اکثریت وګړي براهویان دي. د دوی یو شمیر په دوبي کې د مل پر خوا ځي؛ «مل [19] د دښتې په معنی ده». هغه «مل» چې دلته ئـې یادونه سوې د نوشکي او «خارو»[20] تر منځ دښته ده. شګې غرنی لړۍ ته نیږدې کیږي او د دښتې اوبـهٔ په بندونو کې پاتې کیږي. له باران وروسته دې دښتې کې واښـهٔ شنـهٔ کیږي. او نور ئـې په سیستان کې (؟ -ژ). دا وګړي قاعدتاً سولناک خلک دي خو که فرصت ورته برابر سي د اوښ له غلا کولو دریغ نـهٔ کوي. په شمال کې اڅکزي د براهویانو ځایناستي سوي دي. اڅکزي ځیني وختونه له خپلو ګاونډیانو سره په ستونزو کې وي خو د خپلو د بومي غرونو په پرتله دلته ډیر مغلوب او مقهور دي. په دښتې کې دننه استوګن قبائیل مستقل دي خو په سرحد کې دوی رعیت دي (ارباب – رعیتي سیستم – ژ) او تر ډیره حده د نوشکي د خان رعایا دي. په هغـهٔ ځای کې چې د نوشکي د خان د قلمرو صلاحیت پای مومي هلته د جان محمد په نوم د یوهٔ براهوي مشر د صلاحیت حوزه ده. په دښتې کې له ښوراوک په استثناء هیڅ او یا ډیره لږ کرهڼه سوې ده. په نورو ځایونو کې د ځمکې کوچنۍ ټوټې په هغو ځایونو کې تر کښت لاندې نیول کیږي چې د یوهٔ تش ځای خولـهٔ وي او هلته دوی د باران د اوبو لپاره بندونه جوړوي.
**تدارکات:** په ښوراوک کې چې د غلاتو په منځ کې یوازینۍ غله کرل کیږي غنم دي. وربشې ډیرو اوبو ته اړتیا لري ؛ په ښوراوک کې لږ آسونه دي له دې کبله دلته وربشې لږ کرل کیږي. په پشین او د افغانستان په نورو سویلي برخو کې په هغو ځایونو کې چې کاریزونه وي جوار د دویم فصل په توګه کرل کیږي خو دلته اوبـهٔ هغه مهال وچیږي چې د جوارو د کرلو وخت راسي. له دې کبله امکان نـهٔ لري چې دلته دې ډیر جوار وکرل سي. د اړتیا وړ د توکو لاندنی جدول د ښاغلي دوک د ۱۸۷۹ز کال د مارچ د میاشتې د راپور له مخې په لنډیز رااخیستل سوی دی:
" په ښوراوک کې د یوهٔ پوځي ځواک لپاره د ترلاسه کیدونکو اړتیا توکو او نورو شیانو لنډیز.
**اوبـهٔ:** د ښوراوک په نیمایي شمالي برخې کې په ژمي او پسرلي کې ډیرې دي، په نیمایي سویلي برخې کې ثبات نـهٔ لري او د اوبو له زیرمو څخه تر لاسه کیږي. خو په دوبي کې اوبـهٔ لږ دي او له څاهانو تر لاسه کیږي. په کوز نیمایي ښوراوک کې دومره اوبـهٔ نـهٔ سته چې څوک دې وربانديې ډاډ وکړي مګر دا چې په غرونو کې دراندهٔ بارانونه سوي وي او د لوړه په نهر کې ډنډونه په اوبو ډک وي.

نور بیا

## " غنم/ غلات: په

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[19]- Mal
[20] - Kharau


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ